

# له سینوهه
# وروسته

ناول

Ketabton.com

[illegible]
ژبارن: هلمند اڅر

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لومړی څپرکی

# د آتون خدای بیا راتگ

**څرگندونه: فراعنه**

فرعون د مصر د لرغونو واکمنانو لقب و چې د لومړنی لړۍ څخه (چې رامسېس تأسیس کړه) نیولي د وروستي فرعون د دېرشمې لړۍ تر سقوط پورې چې د بطاسه تر وخت پورې په همدې نوم یادېدل. لرغونو مصریانو خپل واکمنان فرعون بلل او د هغوی عبادت به یې کاوه. له دې واکمنانو څخه دېرشو لړیو واکمني کړې ده چې په لاندې ډول دي:

لومړۍ او دویمه لړۍ: ۳۲۰۰-۲۹۸۰مخزیږدیز، درېیمه لړۍ: ۲۹۸۰-۲۹۰۰مخزیږدیز، څلورمه لړۍ: ۲۹۰۰-۲۷۵۰ مخزیږدیز، پنځمه لړۍ: ۲۷۵۰-۲۶۲۵مخزیږدیز، شپږمه لړۍ:۲۶۲۵ – ۲۴۷۵ مخزیږدیز، له اوومې لړۍ نه تر لسمې لړۍ: ۲۴۷۵ تر ۲۱۶۰ مخزیږدیز، یوولسمه لړۍ:۲۱۶۰-۲۰۰۰ مخزیږدیز، دوولسمه لړۍ۲۰۰۰-۱۷۸۸ مخزیږدیز، له دیارلسمې لړۍ نه تر اوولسمې لړۍ: ۱۷۸۸-۱۵۸۰ مخزیږدیز، اتلسمه لړۍ ۱۵۸۰-۱۳۵۰ مخزیږدیز، نولسمه لړۍ (هغه دوران چې سینوهه پکې ژوند کاوه): ۱۳۵۰-۱۲۰۵ مخزیږدیز (او هماغه دوران چې له سینوهه وروسته به یې وڅارو)

شلمه لړۍ: ۱۲۰۵-۱۰۹۰ مخزیږدیز، یوویشتمه لړۍ: ۱۰۹۰-۹۴۵مخزیږدیز، دوه ویشتمه لړۍ: ۹۵۵-۷۴۵ مخزیږدیز، له شلمې لړۍ نه تر پنځه ویشتمې لړۍ: ۷۴۵-۶۶۳مخزیږدیز، شپږویشتمه لړۍ: ۶۶۳-۵۲۵مخزیږدیز، اووه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ويشتمه لړۍ ۵۲۵-۴۰۴مخزيږديز، نه ويشتمه لړۍ: ۳۹۸-۳۷۹مخزيږديز او دېرشمه لړۍ: ۳۷۹ -۳۴۲مخزيږديز.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## يو تاريخي ټکر

زما نوم (موتيه) دی. د فرعون(ست هوس) مېرمنې خدمتګاره يم. د (سته) لغت په مصر کې خبيث او رټل شوي انسان ته وايي.[ست هوس هم د شيطان د زوی په مانا دی] خو فرعونيان چې تل د خدايانو نومونه لري نو اوس يې ولې د (ست هوس) نوم پرې اېښی دی؟

د دې نوم اېښودنې علت له هغو پېښو سره چې غواړم ويې وايم او همدارنګه د دې يادښتونو د ليکلو له انګېزې او لامل سره نږدې اړيکه لري چې بايد اشاره ورته وکړم. د پېښو د بيانولو لپاره بايد پخوا وخت ته وګرځم او هغه څه مې چې له خپلې مېرې/ناسکه مور (موتي) څخه اورېدلي دي؛ وليکم. په پيل کې بايد ووايم چې زما نوم، زما د مېرې له نوم(موتي) څخه اخيستل شوی دی. په اصل کې لومړی هغې ماته د (کيپا) په نوم غږ کاوه او دا نوم يې د خپل بادار د خوښولو لپاره پر ما ايښی و. د دې لپاره چې غلط نشئ او فکر ونکړئ چې مېره مې وينځه وه، بايد ووايم چې نوموړې د هغه لوی طبيب خدمتګاره او ملګري وه چې د فرعونيانو د څو پړاوونو واکمني يې ليدلي وه او د دوی په ژوند کې يې مهم رول لوبولی و. هغه زما ناسکه پلار (سينوهه) و. دا نوم (سينوهه) د هغه ناسکه مور پرې ايښی و. کيپا د همدې سينوهه د مور نوم و. سينوهه خپلې خدمتګارې (موتي) ته وايي: زړه مې غواړي چې خپل نوم دې په دې نجلۍ باندې کېږدې ځکه ته هم د کيپا په څېر مهربانه او با احساسه يې او دا ستا حق دی چې خپل نوم دې په دې نجلۍ کېښودل شي تر څو زه هره شېبه د (موتيه) په نوم سره تا را په زړه کړم. مېرې مې چې هېڅکله يې د سينوهه د خبرې پر خلاف کومه خبره نه کوله، د هغه امر يې له ولې پرته ترسره کړ او زه (موتيه) شوم! خو زه څه ډول موتي او

(c) ketabton.com: The Digital Library



سینوهه ته ورغلم، دا هم ځانته کیسه لري چې په خپل ځای کې به یې ووایم.

بله موضوع د ست هوس فرعون (د شیطان زوی) په اړه ده چې زه یې د مېرمنې خدمتګاره وم او په دې اړه باید د خپلې مېرې موتي خبرو ته اشاره وکړم:

مېرې مې د ژمي په اوږدو شپو کې ډېرې کیسې کولې ترڅو ویده شم. کومې کیسې چې هغې کولې ټولې ریښتینې وې او د کیسو خلک (کرکټرونه) یې تقریباً ټول ژوندي وو. پلار به مې هم کیسو ته غوږ نیوه او د کیسې په پای کې به یې ځینې ځایونه سمول او ویل به یې: هسې نه چې د دې نجلۍ ذهن په ناسمو شیانو ډک شي. ځینې وختونه به یې کړس کړس وخندل. موتي مېرې به مې فکر وکړ چې سینوهه د نوموړي په کیسو پورې خاندي وبه یې ویل: باداره! خو تاسو دا کیسې همدا شان نه وې راته ویلې؟ ما خو له ځان څخه څه شی نه دي پکې ګډ کړي.

پلار به مې وویل: نه موتي! ته فوق العاده هوښیاره مېرمن یې، ټول هغه مطالب چې ما د خپلو خاطراتو په کتاب کې لیکلي، ته یې ښه در په زړه کوې، زه زمانې ته خاندم، په زړه مې دي چې کله زما میرې (کیپا) چې تر اوسه هېڅوک د کیسه په ویلو کې د هغې ځای ته نه رسیږي؛ ځینې کیسې به یې کولې چې اغراق پکې لیدل کېده، پلار مې چې د بې وزلانو ډاکټر و، نیوکه یې کوله چې دا کیسې دې هلک ته مه کوه! هسې نه چې ذهن یې له ناسمو شیانو ډک شي. پلار مې غوښتل چې ووایي چې ان ډېرې نادرې پېښې هم ممکن تکرار شي او ښکاره بېلګې یې د نیل پر سر زما[موتیه] او د سینوهه پیدا کېدل دي چې د ست هوس د نوم او د نوم اېښودلو لامل څخه وروسته به یادونه ترې وکړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د (ست هوس) نوم، شهزادګۍ باکتامون په خپل زوی کېښود. کله چې ست هوس فرعون شو نو د دې نوم اېښودنې په لامل پسې وګرځېده او کله چې پوه شو چې د دې نوم لاندې څومره عجیبه او شرموونکې کیسه ده؛ خپل نوم یې (سوبمن ورزا) ته بدل کړ.

(وحشي ورزا) یو ډول غوا ده چې د غواګانو په نندارو کې د جګړې لپاره روزل کېږي. ډېر ځواکمن او زړور حیوان دی. ست هوس خپل نوم په (ورزا) بدل کړ ترڅو د طبس خلک یې نوم هېر کړي خو له دې سره سره بیا هم د طبس خلکو هغه د باکتامون شهزادګۍ د تیرو ماڼۍ هېره نه کړه. باکتامون د ست هوس پلار یانې هورم هب څخه د کرکې له امله هغې ته نه نږدې کېده او د شهزادګۍ همدې مخنیوي او ځان ساتنې د هغه وخت فرعون (هورم هب) چې د مصر ترټولو غښتلی ځواک و؛ حریص او لېوال کړ، ان تر دې چې په ویښه یې ونه شول کولای چې له خپلې مېرمنې[باکتامون] سره پرېوځي خو د خوب راوړونکي درمل په کارولو سره د خوب په حالت کې له هغې سره څملاست او همدغه وو چې د سوبمن ورزا (ست) نطفه وتړل شوه. شهزادګۍ باکتامون چې د ست هوس پلار (هورم هب) یې په بې پتۍ ګواښلی و؛ خبره یې د عمل پړاو ته بوتله او د ماڼۍ د تیرو په شمېر خلک یې له ځان سره څملول او د هغه ماڼۍ د جوړولو لامل یې هم هورم هب ته بیان کړ.

هورم هب د واکمنۍ او غیرت په دوو لارو کې پاتې شو او توره یې له تیکې راوباسله ترڅو باکتامون ووژني. هورم هب زړه نا زړه وړاندې لاړ خو باکتامون یادونه ورته وکړه چې ګوزار وکړه خو واکمني دې هېره کړه! ځکه چې د باکتامون شهزادګۍ سره د واده په دلیل هورب هب په قانوني ډول کولی شول چې سلطنت وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما  مېرې په دې اړه ماته ډېر څه وويل:

هورم هب د مصر په سوېلي سيمو کې له دوه کاله جګړو وروسته له ډېرو غنيمتونو سره مصر ته بېرته راغی او خپلو کسانو ته چې ډېری برخه يې تور پوستي وو، انعام ورکړ. د هورم هب د بيا راتګ په پار چې د يوه لوی سوبمن سردار په څېر بيا طبس ته راغی؛ د طبس ښار لس شپې او ورځې په خوښۍ او مزو کې ډوب شو. مستو سرتېرو له سهار نه تر ماښام او له ماښام نه تر سهار پورې د طبس له ښځو سره په عيش او عشرت، ساعتېرۍ او بې خبرۍ کې تېر کړل. په پايله کې د بل کال نوي زېږېدليو ماشومانو شمېر چې دوه رګه وو، په طبس کې د پام وړ و. هورم هب خپلې مېرمنې باکتامون ته ګرانبيه ډالۍ راوړې چې جزئيات يې ډېر لنډ دي- د شترمرغ له ښکو نيولي تر قيمتي نادرو ډبرو پورې خو باکتامون شهزادګۍ هغو ډاليو ته ان ور هم نه کتل او ويې ويل که چېرته زه دا ډالۍ ومنم خلک فکر کوي چې زه ستا مېرمن يم! ماته همدومره بس دي چې تاته مې يو زوی راوړی، له دې وروسته ان زما په کوټه کې ښکاره هم نه شې، ماته نږدې کېدل خو لېرې خبره ده چې په خپل خام خيال به له ما سره د مينې لوبې وکړې.. په ياد ولره هغه وخت هم د مينې لوبې نه وې او د کرکې لوبې وې. که چېرته وغواړې چې د هغې بلې شپې په څېر چې په معبد کې وو، په زور ما در نږدې کړې؛ له تا به داسې غچ واخلم چې تاريخ به يې بيلګه بيا ونه ليکي ځکه زه له تا کرکه لرم او کتل دې ما زړه بدي کوي.

د باکتامون شهزادګۍ مقاومت، هورب هم لا بخيل کړ، په دې وخت کې يې زما له پلار (سينوهه) څخه د خوب درمل وغوښتل. زما پلار له دې کار ډډه وکړه خو هورم هب له نورو ډاکټرانو څخه خوب راوړونکي درمل واخيستل، پرته له دې چې باکتامون پوهه شي، په يو ډول يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورباندې وخوړل. باکتامون ويده شوه او هورم هب د خوب په حالت کې د باکتامون بې احساسه او بې تفاوته بدن ته ورننږدې شو. کله چې شهزادګۍ ويښيږي، نو پوهيږي چې هورم هوب له څومره چل څخه کار اخيستی او له هورم هوب څخه لا کرکه کوي او له دې بده يې هغه وخت ده چې باکتامون شهزادګۍ څو اونۍ وروسته پوه شي چې اميندواره ده. له زوکړې وروسته، په ماشوم د ست هوس (د شيطان زوی) نوم ږدي. ست هوس يا د شيطان زوی خپل نوم به سوبمن ورزا بدلوي مګر هويت نه! اوس به اصلي معما وليکم، يعنې خپله کيسه به وليکم:

لکه څرنګه چې اشاره مې وکړه زه (موتيه) يم او د خپلې مېرې نوم را باندې ايښودل شوی دی. زما د پلار په خبره، زما مېره (موتي) تر ټولو مهربان او وفادار انسان و چې پلار مې پېژندلی و. نوموړې هم له خپل بادار سره په ټول وجود مينه درلوده، تر دې چې حاضره شوه خپل ژوند يې سينوهه ته وقف کړي چې سينوهه په جلاوطنۍ کې يوازې پاتې نه شي. دا خبره هم د يادولو وړ ده چې زما پلار د وفادارۍ، خدمت او مهربانۍ په جرم جلا وطن شو. هغه هم يو لا اصله سړي ته د خدمتونو له امله چې په ژوند کې يې له داخلېدو څخه نيولي ان د پاچاهۍ په پړاو کې يې هم[هورم هب] ته د پام وړ خدمتونه کړي وو. هورم هب هم خپله خبيثي، پستي او بې اصلي د ملګرتيا د ټولو معيارونو ته په شا اړولو سره وښوده. زما پلار به ويل چې هورم هب ان له وحشي ورزا غويي څخه هم ډېر بې احساسه او وحشي دی. هورم هب د واکمنۍ له لاسته راوړلو څخه وروسته زما پلار لېرې ځای ته تبعيد کړ ترڅو خپل فکرونه يې هېر شي خو له دې نه و خبر چې د پېښو تېرېدل هم ډېر عجايب لري. څومره به ښه وای چې هورم هب يوه شېبه هغه زمانه ورپه زړه کړي وای چې يوازې له يوه باز سره چې په سر يې ګرځېده، طبس ته راننوت او همدا زما پلار

(c) ketabton.com: The Digital Library



و چې له مرګ څخه یې بچ کړ. هورم چې د فرعون د میرګي حملې شاهد و، د دربار له قانون سره سم باید په مرګ محکوم شوی وای خو زما د پلار په منځګړیتوب له حتمي مرګ څخه روغ ووت.

د پېښو له تېرېدو څخه وروسته یې په سختو ورځو کې زما له پلار او د هغه له لرغوني غلام (کاپتا) څخه ډېر سره-سپین او غنم واخیستل. زه فکر کوم، لکه څرنګه چې زما پلار به ویل، کاپتا سم و او دا بې اصله او پست نژاده غرنی سړی یې ښه پېژندلی و او تل به یې د سینوهه مخنیوی کاوه چې له هورم هب سره مرسته ونکړي. البته وروسته بیا کاپتا په طبس کې ځان ته فرعوني او شانداره ژوند جوړ کړ او داسې ماڼۍ یې جوړه کړه چې د هورم هب له ماڼۍ سره یې سیالي کوله او په طبس کې یې داسې طرفداران درلودل چې د کاپتا په یوه اشاره یې په ټول ښار کې ګډوډي جوړولی شوه او هورم هب د کاپتا له همدې نفوذ څخه وېرېده هم خو کاپتا له دې ټول نفوذ سره ولې د سینوهه د تبعید مخنیوی ونکړ؟ دا هغه موده وه چې کاپتا په طبس کې لا ځواک نه درلود او له بل لوري هورم هب فرعون شوی و او ځان یې په سوبمن سردار مشهور کړی و.

وروسته چې دې حالاتو بدلون وکړ او د طبس هوا نرمه شوه، کاپتا هڅه پیل کړه چې بادار یې (سینوهه) آزاد کړي او لکه څرنګه چې خپله یې هم ویلي دي، یوه شېبه هم د سینوهه له یاد څخه بې خبره نه و پاتې شوی. ان د شپې مهال به یې هم د سینوهه د څېرې په فکر کې ویده کېده. ډېر وخت به هغه ځای ته روان و چې هلته یې سینوهه د نیل په لاندې برخه کې له اوبو رانیولی و. زما د پلار مخکیني غلام زما مېرې ته کیسه کوله:

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې د نيل سره په هغه لوړ ځای کيناستم، هغه ځای ته مخامخ چې ما ته سينوهه ښودلی و او ويل يې چې دلته يې له مزريو څخه اوبدل شوي ټوکرۍ له اوبو راجګه کړي وه.. د نيل چټک او ځواکمن بهير مې ليده نو حيران به وم چې څنګه هغه ماشوم د وريو تمساحګانو له يرغل څخه روغ پاتې شوی و! او يوه ورځ چې ښه پوهېدم ژړا تاوان راته رسوي ځکه چې يوه سترګه لرم خو بيا مې هم ډېر وژړل. ما ډېر شراب څښلي وو او غلامانو ته مې وويل چې روان تخت ژر تر ژره تيار کړئ. ويې ويل: باداره! چېرې لاړ شو؟ ومې ويل د نيل کوزې برخې ته!

ما د خپل همېشني عادت پر بنسټ چې نور مې نشول کولی چې د خپل بادار د ليدلو او لېږې والي غم وزغمم نو داسې کس يا ځای ته مې اړتيا درلوده چې تېر شوي يادونه بيا بيان کړي يا لږ تر لږه د داسې ځای ليدل چې تېر شوي يادونه بيا راپه زړه کړي. د بې وزلانو ځای، يا د سينوهه د پلار ټاټوبي ته او وروسته د سينوهه او د هغې وفاداره خدمتګارې کور ته يا هم هغه ځای ته چې سينوهه ويلي وو چې هلته يې دی[سينوهه] له اوبو رانيولی و؛ روحي او عاطفي احساس ټينګ کړم او له روحي ځور څخه خلاص شم. په دې کچه له خيال او تجسم سره روږدی شوی وم چې يوه ورځ مې د لمر لوېدو پرمهال، له مزريو څخه اوبدل شوی ټوکر د نيل د غوړګو(د کړکيو/نی بوټی) په څنګ کې وليد او فکر مې وکړ چې بيا هم فکر او خيال دی، يا هم زه چې يوه سترګه لرم؛ کوم شی چې د هغو غوړګو په منځ کې نيول شوی دی ماته د ټوکرۍ په څېر ښکاري. سترګه مې پټه کړه، البته يوازې يوه سترګه او بلې پټولو ته اړتيا نه درلوده او له ماشومتوب راهيسې تل پټه وه. بيا مې سترګه خلاصه کړه ومې ليدل چې ټوکرۍ له کړکيو سره لاس او ګرېوان ده او اوبه هم په ټوکرۍ فشار راولي. پوه شوم چې ټوکرۍ ده او رښتيا ټوکرۍ وه ژر ورغلم،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټوکرۍ مې راپورته کړه او يوه لوڅه نجلۍ مې پکې وليده چې آرامه ويده ده او ژاړي هم نه. فکر مې وکړ چې حتماً مړه شوي ده او مړی يې اوبو ته ور اچولی، زه چې کلونه د سينوهه ترڅنګ د مرستيال په توګه ورسره وم او په لسګونه ځله مې د بې وزلو او شتمنو د کوپړيو په سورۍ کولو کې له هغه سره مرسته کړې ده، د يو ژوندي او مړه ماشوم په توپير ښه پوهېدم او ومې کولای شوی چې تشخيص يې کړم چې پرېښتې ته ورته ماشومه نجلۍ ژوندۍ ده! عجبه دا وه چې دا ټوکرۍ مې سم په هماغه ځای کې پيدا کړه چې سينوهه څو ځله دا ځای راښودلی و. اوس به له دې جلۍ سره څه کوم؟ ما خو مېرمن نه درلوده، معما شوه! د ماشوم مينه او محبت مې په لومړي ځل کتو کې په زړه کې را پيدا شو. ژر د روان تخت په لور په منډه شوم او ومې ويل: په چټکۍ سره بېرته ماڼۍ ته ځو او يوې وينځې ته مې چې پوهېدم د ماشوم پالنه او ورتيا لري او همدارنګه ښه پاکوالی هم مراعت کوي، ووېل چې ماشوم ښه وچ کړه چې وروسته به تصميم ونيسم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نا بللی مېلمه

وروسته له هغې چې کاپتا هغه ماشومه یوې وینځې ته وسپارله نو خپل یو غلام چې (اتوم) نومېده، راوغوښت او ورته ویې ویل: اې اتومه! غواړم چې تاته یو مهم کار وسپارم، که څه هم دا کار ستونزمن مالومېږي خو تر اوسه داسې نه دي شوي چې تاته مې کار سپارلی وي او ته یې ترسره نه کړې. ته داسې ځواک لرې چې ما په فکر کې ډوبوي چې دا څنګه ممکنه وه چې اتوم داسې ستونزه حل کړه.

اتوم وویل: تاسو په خپل غلام ګران یاست هر کار لاره لري او زه پلټنه کوم چې هغې ته حل لاره پیدا کړم.

کاپتا وویل: مخکې وختونو کې مې یو ډاکټر پېژانده چې ستا په څېر یو غلام یې درلود چې له هېڅ ستونزمن کار څخه یې اوږه نه تشوله او په پای کې بریالی هم شو.(کاپتا د خپلې غلامۍ هویت له خپلو غلامانو او وینځو څخه پټ کړ او د نوي پړۍ/مجسمې په جوړولو سره یې د ځان لپاره نوی هویت تراشلی و) دا خبرې مې ځکه وکړې ترڅو کله چې تاته ستونزه وایم نو ته باید خبرې پکې ونکړې.

اتوم سر وښوراوه او ودرېد. کاپتا زیاته کړه: کلونه کېږي چې ما سینوهه نه دی لیدلی خو اوس له هغه سره ملاقات کول ډېر ضروري دي، ناممکنه ده چې هورم هب ماته د سینوهه جلاځای/تبعیدګاه ته داخلېدو اجازه راکړي، ان له دې چارچوکاټ څخه د وتلو اجازه هم نه راکوي. غواړم یو کس هغه جلاځای ته په داسې ډول ولېږم چې د هورم هب عسکرو ته کوچنۍ نښه هم پرېنږدي. ته کولی شې چې جلاځای ته په ننوتلو او له طبس څخه د وتلو جواز په اخیستلو سره زما دا غوښتنه پرځای کړې. د سرو او سپینو په اړه هم تشویش مه کوه، که بیه یې هر څه وي، په غاړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې اخلم. اوس نو د خپل نفوذ او ملګرو په واسطه زما دا غوښتنه ترسره کړه.

اتوم خپل لاسونه په زنګونو کېښودل او تعظيم يې وکړ او ويې ويل: په دې شېبه کې په قاطع ډول کومه خبره نشم کولی خو د امر منلو تمه شته، که در په زړه وي کله چې له پاڅونونو پخوا هورم هب د اخناتون په وخت کې ګوښه شو او پر ځای يې هغه په تخت کې روان غټ سړی (پپيت) د قومندانۍ لپاره وټاکل شو؛ هماغه د ستونزو کونجي/کيلي ده.

کاپتا وپوښتل: آيا ته له هغه کفتر باز او مرغباز سره پېژنې؟ نوموړی په داسې ځای کې نه دی چې ته وکولی شې ملاقات ورسره وکړې. اتوم وويل: حق له تاسو سره دی، ګوښه شوي قومندان (پپيت) د آمون له معبدونو په لوټ کولو سره يو ښايسته ژوبڼ په خپل ټاټوبي کې جوړ کړی دی، ما چې له ماشومتوبه له حيواناتو سره سروکار درلود له غلام سره يې آشنا شوم او څو ځله مې د هغه د غرڅنۍ ماته پښه وروتړله او څو ځله مې د مرغيو ټينګې/کولمې هم وکتلې چې د يو ډول مخصوصو غوړيو په خوړلو يې ناراحتي رفع شوه. پپيت د خپل غلام په واسطه څو څو ځله زه د داسې ستونزو لپاره غوښتی يم، شايد وکولی شم چې د هغه ګوښه شوي مرغباز قومندان په واسطه کوم کار وکړو.

دا نقشه د کاپتا خوښه شوه او بيا يې وپوښتل: دا د لارې نيمايي دی ځکه څومره چې زه پوهېږم پپيت په خپله تر څار لاندې دی خو له هورم هب سره ضد يې له موږ سره مرسته کوي. اتوم وويل: دا خبره مې بايد بادار ته ويلي وای چې پپيت په طبس کې د ترټولو لويې عياشخانې خاوند دی، د عياشخانې پېرودونکي بېلابېل دي او بدکارې ښځې هم د يوې دوو کړيو لپاره ترټولو کلکې غوټې پرانيزي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کاپتیا آرامه ساه واخیسته او ویې ویل: اوس مې فکر بشپړ ټول شو... تا په جلاځای کې د سینوهه ترځنګ وینم چې زما پیغام هغه ته رسوې، نور جزئیات د جواز له اخیستلو وروسته درته وایم.

سبا ورځ د کاپتا غلام خپل بادار ته راغی او ویې ویل: زېرى مې دربانديږ! لکه څرنګه مې چې ویلي وو، هغه عیاشخانه د بېلابېلو خلکو په ځانګړي توګه د ماڼوګانو او افسرانو د ټولېدو ځای دی، یو افسر چې د ساحلي تګ راتګ د نظارت مأمور دی او ځینې وخت په هغه لاره تېرېږي چې هلته د سینوهه جلا ځای دی. هلته د پپیت په عیاشخانه کې په یوې ښځې پسې دی... دا خبرې د پپیت غلام راته وکړې. کاپتا وویل: له دې غوره به نور څه وي، هم کولی شې چې له هغه افسر سره معامله وکړې او هم کولی شې چې د عیاشخانې له ښځې سره.

اتوم وویل: د عیاشخانې د ښځې په واسطه کولی شو ډېر ژر خپلې موخې ته ورسېږو، زه به کارونه سم کړم ترڅو بادار مې خوښ وي.

د اتوم څو ورځې درک ونه لګېد خو یوه ورځ له یوې نغاړل شوي پاپیروس سره په خوښۍ کاپتا ته راغی او ویې ویل: په ستر بادار مې درود! هم مې جواز واخیست او هم مې د [سینوهه] د جلاځای نقشه!

پاپېروس یې پرانیست جواز ته یې اشاره وکړه او زیاته یې کړه: ستاسو خوار غلام سواد نه لري ځکه چې ړوند یم خو پوهېږم چې تاسو یې لوستلی شئ او وګورئ چې څه شی یې لیکلي؟

د کاپتا کړس کړس خنداګانو غلام(اتوم) وارخطا کړ او فکر یې وکړ چې کاپتا شکي شوی دی. کاپتا په سختۍ سره کوښښ کاوه چې خندا یې غلې کړي او ویې ویل: که ته په خپلو غټو سترګو وایې چې ړوند یې، زه چې یوه سترګه نه لرم نو څه به ووایم!

(c) ketabton.com: The Digital Library



اتوم په په حیرانتیا وپوښتل: نو په ماڼۍ کې هغه ستاسو مجسمې چې لیکل، لوستل او داسې کارونه ښیي؛ درواغ دي؟

کاپتا وویل: لیکل او لوستل یوازې هماغو مجسمو زده دي، نه ما! اوس باید یو کس پیدا کړو چې له موږ سره مرسته وکړي. اتوم وویل: لویه باداره! تاسو خو څو کاتبان لرئ... کاپتا وویل: ستا خبرو داسې ګنګس کړم چې هېر مې شول چې زه څو پوه کاتبان هم لرم چې ان له جغرافیایي چاپېریال سره هم بلد دي.

بیا یې غږ کړ: رافسا! رافسا د کاپتا د پېښو ځانګړی لیکونکی و او ټولې هغه پېښې چې له کومې ورځې سینوهه جلاځای ته لېږل شوی و، د کاپتا په امر ساتلې. کاپتا رافسا ته وویل: دا نقشه او جواز وګوره او د هغې سموالی او ځای وټاکه. رافسا وویل: هر چا چې دا جواز ورکړی دی یو مسؤل کس و ځکه مهر یې د قومندانۍ مهر دی او همدارنګه نقشه هم ډېره ښه رسمه شوې ده.

کاپتا اتوم ته مخ ور واړاوه او ویې ویل: اوس ستا نوبت دی، هر کله دې چې غوښتل حرکت وکړې نو ما ته ووایه ترڅو تاته یو ځانګړی امانت درکړم چې هلته یې د سینوهه خدمتګارې موتي ته ورکړې او ترڅنګ یې یو ضروري پیغام هم سینوهه ته ورسوې.

هغه څه چې په منځ کې ناڅرګند پاتې شول، هغه د قرارګاه د مأمور افسر او د کاپتا غلام(اتوم) ترمنځ شوی تړون و. اتوم په ماهرانه ډول پرېښودل چې کاپتا په خپلې ټولې هوښیارۍ سره د دې راز په اړه وپوښتي، یوازې یې کاپتا ته وویل: ستاسو امر ته چمتو یم.

کاپتا یو څه سره سپین او ځینې نور شیان اتوم ته ورکړل او ویې ویل: یو څه سرو زرو ته به اړتیا پیدا کړې، دا شیان سینوهه مخکې غوښتلي

(c) ketabton.com: The Digital Library



وو خو دا چې څوک مې پیدا نکړل چې ور ویې لېږم نو ومې ساتل. ته دا شیان سینوهه ته ورکړه او ماشوم هم موتې ته ورکړه او ووایه چې د ماشوم له درلېږلو پرته بله هېڅ چاره نه وه. اتوم وپوښتل: باداره! آیا دا ټول کوښښونه یوازې د دې لپاره وو چې د سینوهه خدمتګارې ته ماشوم ور ورسوئ؟ که داسې وه نو کولی مې شول چې له سرخوږې پرته په ډېره ساده، قانوني او رسمي لاره دا کار سرته ورسوو.

کاپتا وویل: ماشوم یوه پلمه ده، ته به ځې سینوهه به راضي کوې چې له خپل جلاځای څخه وتښتي. اتوم حیران شو او ویې ویل: دا خو د اوامرو برخه نه وه، فکر نه کوم چې د بندر افسر یې راسره ومني. کاپتا په لوړ غږ وخندل او ویې : د سرو زرو کڅوړه به ووینې چې څه ډول زموږ دا غوښتنه تر ستوني تېروي! ما خو تاته وویل چې په دې زمانه کې سره زر د ټولو ستونزو حل دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## سینوهه څنګه ومنله چې خپل جلاځای پرېږدي؟

هغه څه چې د سینوهه یې وهڅاوه چې هغه جلاځای پرېږدي، دوه اغېزناک لاملونه وو: لومړی یې د نیل څخه اخیستل شوی ماشوم و چې سینوهه ته یې د خپل وړکتوب وختونه ور په زړه کړل او دویم لامل د اتوم له خوا د هغه د اوسېدو د ځای خبره وه چې ویې ویل: د تمساح لکۍ میخانه په طبس کې د خوندي ځایونو څخه وه ځکه دا ځای یوازې میخانه نه وه بلکې مېلمستون هم و! سینوهه د دې خبر په اورېدو سره حیران او لړزان شو او خپله مېرمن (مریت) ور په زړه شوه چې ویلي یې وو "د تمساح لکۍ د شرابو جوړولو چل یې له پلار څخه زده کړه و!" سینوهه له ځان سره وویل: هسې نه چې مریت کوم خپلوان، خور او یا ورور درلود چې د تمساح لکۍ د جوړولو چل یې د مریت له پلار څخه زده کړی وي او په ډېر احتمال سره که چېرته د میخانې اداره کوونکی ښځینه وي نو بې له شکه هغه د مریت خور ده.

سینوهه وپوښتل: د تمساح لکۍ میخانه څوک اداره کوي؟ اتوم وویل: یوه مېرمن ده چې په ښکلا کې مشهوره ده! سینوهه په فکر کې لاړ او زیاته یې کړه: که چېرته ته د کاپتا له لوري راغلی وې، پوهېږې چې آیا کاپتا میخانه جوړه کړې ده کنه؟ او یا دا چې دا میخانه د کاپتا ده که د بل چا؟ اتوم وویل: رښتیا دا دي چې د تمساح لکۍ د میخانې له جوړولو څخه ډېره موده تېرېږي ځکه زه خپله میخور/شرابي یم او داسې ځایونو ته ډېر ځم، د دې میخانې نوم په اصل کې (سته هوس) و خو په دې وروستیو کې د یوې وچې تمساح په لګولو سره چې سرې سترګې لري، په دوو نومونو یاده شوې. د تمساح لکۍ شراب تېز شراب دي چې میخانه یې هره شپه داسې له پېرودونکو څخه ډکه کړې وي چې خاوند یې اعلان

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړی دی چې هر څوک که غواړي چې د تمساح لکۍ میخانې ته د شپې له خوا راشي باید مخکې له مخکې د ځای غوښتنه وکړي.

سینوهه ډېر وسوسي شو او نور باوري شو چې د میخانې خاونده د مریت خور ده چې د هغې بې مثاله شرابو د جوړولو په چل پوهېدو سره یې د تمساح لکۍ میخانه له سره جوړه کړي ده.

هغه بله خبره چې د (سته هوس) میخانې یو بل نوم هم درلود؛ یو پلان و چې د میخانې خاوند د خاوند له لوري چې د سینوهه د تېښتې څخه خبر و جوړه شوي وه او دا چې له اتوم سره یې پېژندل، ورته ویې ویل: ته یوازې په یوه لاره کولی شې چې سینوهه د هغه له جلاځای څخه وخوځوې. اتوم وویل: که چېرته زه داسې کار وکړای شم، ما به خپل بادار په سرو سپینو کې ډوب کړي. د میخانې خاوند وویل: که غواړې چې آزادي او سره سپین لاسته راوړې نو د کاپتا په پیټیو/بارونو کې چې هر څومره شراب دي، ټول راجمع کړه او په هر قیمت یې راته وپېره. کاپتا د تمساح لکۍ د میخانې له ترلو وروسته یو څه اندازه د تمساح لکۍ شراب په ځانګړو منګیو کې ځای پر ځای کړل او خپلې ماڼۍ ته یې یووړل. اتوم په خندا شو او ویې ویل: څه موده مخکې په ناڅاپي ډول ماته خپل بادار کاپتا وویل: چې د شپې ککرۍ را ښکاره کوې، که د تمساح لکۍ ډېر شراب غواړې نو شته دي. اوس مې هم کاپتا بادار خوشالیږي او هم تاسو خپلې موخې ته رسېږئ. کله چې د میخانې خاوند د تمساح لکۍ شراب لاسته راوړل نو یوه وچه تمساح چې سرو سترګو یې پړکه کوله، د میخانې په سر ځوړنده کړه او ورو ورو د تمساح لکۍ شراب له خپلې مشهورې مخینې سره د طبس په مې خوارانو کې یو ځل بیا شهرت پیدا کړ خو ډېرو لږو کسانو به د میخانې خاوند چې یوه ښځه وه، کتلی شوه. د (سته هوس) په نوم کم عمره جلۍ له څو قوي کسانو سره یو ځای دا میخانه اداره کوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د تمساح لکۍ میخانې او د ماشوم د شتون کیسو سینوهه او په ځانګړي توګه د هغه خدمتګاره موتي وپارول او هم يې په فکر کې کړل. سینوهه او موتي چې تقريباً له هغه چاپېریال سره عادت شوي وو، يو ډول آرام او له شور او ځوږ څخه لېرې ژوند تېراوه. هغه سرتېري چې په جلاځای کې د ساتونکو په توګه ګمارل شوي وو، ښه ژوند يې جوړ کړی و او سینوهه او موتي ته په دې کچه نږدې شوي وو چې هيله يې کوله چې سینوهه باید په هغه ځای کې پاتې شي. دوی هلته دومره د امن او آرامتیا احساس کاوه چې ان خپلې کورنۍ يې هم کار ځای ته راوستلي وې. دلته خبره موتي ته رسېده چې د خپلو تجربو او هنر په واسطه يې پر هغو کسانو اغېز کړی و: خوږه ډوډۍ، د شیرینیو ډولونه، د بېلابېلو خوراکونو د پخولو څخه سربېره د ساتونکو ښځو ورځني روزل وو چې د موتي له لارښوونو او امرونو څخه يې د وينځو په څېر پيروي کوله.

په خپله موتي هم له سینوهه څخه د لوستلو او ليکلو تمرين کاوه. د هغې کوچنۍ ټولنۍ ټول امید سینوهه او موتي و چې د جلاځای د پرېښودو خبرې په سر په دوه لارۍ کې پاتې شول. د هورم هب کسان چې تقريباً په هغه ځای کې هېر شوي وو ځکه چې د دولت تنخوا ته يې اړتیا نه درلوده او دوی خپله حتی څو غلامان د کرنې کارونو لپاره اخيستي وو او له دې پلوه اندېښمن نه وو. له بلې خوا يې زړه نه غوښتل چې سینوهه او موتي دې جلا ځای پرېږدي. يو بل لامل هم دوی ځورول، هغه دا چې د سینوهه د تګ راز به يوه ورځ افشا کېږي او دوی به يې ځواب ورکوي. دا خبره سینوهه ښه درک کړې وه او ويې ويل: زه نه غواړم چې زما آزادي او تګ ستاسو د نيولو په بيه تمام شي، په همدې دليل مې که څه هم کولی شم چې لاړ شم خو داسې مې ونکړل ځکه يوه بله ښه حل لاره راته مالومه شوه چې هم وکولی شم دا ماشوم تر يوه ځايه ورسوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې ښه تربیه شي او په ښو شرایطو کې را لوی شي. بله خبره دا چې هورم هب غواړي زموږ څخه ځان خلاص کړي او شاید زموږ د له منځه وړلو په پار کسان دې ځای ته راواستوي. تر ټولو ښه لار د هغوی ډار او په هیله کېنول دي. ورته ووایئ چې موږ د هغوی جلاځای ته زنځیرونه او قلفونه اچولي وو او همدا نن سهار خبر شوو چې دوی [سینوهه او موتي] ورک شوي دي. دوی به زموږ د ټولو په هیله تاسو وبښي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د کپ چاپېریال (د واکمنو او خانانو ښوونځی) او د تمساح لکی اشرافي میخانه

په هغه وخت کې چې زه[موتیه] د فرعون مېرمنې په خدمت کې وم، د کپ ښوونځی د طبس له غوره علمي مرکزونو څخه و چې له دارالحیات سره یې سیالي کوله. دارالحیات کې په عمومي ډول طبابت لوستل کېده خو د کپ په ښوونځي کې بېلابېل علوم تدریس کېدل. د (کپ) لغت د تړلي ځای په معنا دی، په دې چاپېریال کې د بېلابېلو تخصصي ښوونځیو ټولګه وه چې یوازې د هېواد د لوړ رتبه او سیاسي څېرو اولادونو هلته لاره درلوده. په ځانګړي ډول د فرعون، دربار او په دوی پسې تړلیو کورنیو اولادونو به هلته سبق لوستۀ. دې ځای ځانګړي قوانین او مقررات درلودل ان په خپل چاپېریال یې هم اغېز کړی و، داسې چې د دې سیمې میخانه یې هم څو کلونه وړاندې ځکه وتړله چې د کپ له ښوونځي سره څنګ په څنګ وه.

دا میخانه د ونو په منځ کې، د نیل څخه په لوړه تپه باندې له یوې ښکلي منظرې سره جوړه شوي وه او د میخورانو لپاره یې تل پاتې او خیالي شېبې پر ځای پاتې کولې. د اخناتون د خسر (آمي) د واکمنۍ په وخت کې چې طبس د پاځون او ګډوډۍ ښکار شو او ټول ځایونه چې له ډلې یې میخانې هم د برید لاندې راغلې، د کپ میخانه د هغې تباهۍ څخه د لېرې والي په وجه بچ شوه او له ړنګېدو وژغورل شوه. د دې ترڅنګ چې میخانه غیر فعاله وه نو کله چې هورم هب فرعون شو، میخانه هم بېرته فعاله شوه.

یوه ورځ سهار مهال، د میخانې لویه دړه له وچ غړ سره تاو شوه، څو کارګران او انجینران/معماران ننوتل. له هغه وروسته په هغه ځای کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ګوتو شمار ګاونډيانو وليدل چې کارګران د پام وړ هڅه او فعاليت کوي او په ودانۍ کې کار پيل شوی چې د ميخانې په بيا جوړولو کې په ښايسته ډول لګيا دي او يوه لويه تابلو يې وليده چې شيطان پرې رسم شوی و او د (ست هوس) نوم چې د شيطان د اولاد په مانا دی، هلته وځړول شو. دا ځای ميخانه او مېلمستون دواړه وو او د طبس ترټولو ښکلي او مجللې ميخانې په توګه مشهوره شوه.

خو د ميخانې محبوبيت او مشهور کېدل هغه وخت د برېښنا په څېر چټک شول چې د يوې وچې تمساح يو جسد يې د ست هوس له څنګ سره ځوړند کړل شو او د (تمساح لکۍ) شرابو شتون ميخانه له خلکو ډکه کړه. (سته) چې د ميخانې د خاوندې لور وه د مور په امر يې يوازې د هغو خلکو خدمت کاوه چې مخکې له مخکې يې په ميخانه کې د ځای غوښتنه کړې وه. ستې بې سياله او بې بديله ښکلا درلوده او د شپې له خوا د مشعلونو په رڼا کې يې ټول ځانته جذبول. د ميخانې ښکلي شکلونه له ځانګړو لرګيو څخه تراش شوي وو، په ودانۍ کې کارول شوي هنري لرګي يې د ډوبو شويو کښتيو له پاتې شونو او وروسته پاتې شويو څخه جوړ کړي وو چې هم ډېر کلک او هم ډېر ګرانبيه او دوامدار وو. د روښنايۍ څراغونه، رنګينې پردې او د ميخانې لوښي يې، يوازې د فرعون په ماڼۍ کې ليدل کېدل او ځينې نور شيان ان په ماڼۍ کې هم نه پيدا کېدل.

د ميخانې د نومولو لامل، لکه څرنګه چې اشاره وشوه د (ست هوس) د ميخانې د خاوندې د لور له نوم څخه اخيستل شوی و او دا جلۍ د ځوانۍ په عمر کې ډېر فعاله او هوښياره وه. مور يې ټول کارونه هغې ته سپارلي وو، که څه هم ټول کارونه يې تر څار لاندې وو خو لويې پرېکړې يې د ميخانې له خاوندې څخه اخيستلې، په ځانګړي توګه د هغو

(c) ketabton.com: The Digital Library



مېلمنو په اړه چې په سته-هوس میخانه کې يې د خوب او پاتې کېدو نیت درلود، ډېر دقت کېده. یوازې هغو کسانو کولی شول چې هلته شپه تېره کړي چې په پېژندګلوۍ به هلته راتلل. په همدې دلیل د کاپتیا استازیو چې په روان تخت کې سپاره ول، د سته هوس میخانې ترڅنګ له تخت څخه پیاده شول. دوی په میخانه کې د ځای پیدا کولو څخه نا امیده بېرته د کاپتا ماڼۍ په لور ستانه شول.

کاپتا وپوښتل: آیا دوی تاسو ته ونه ویل چې ولې زما د مېلمنو لپاره ځای نه درکوي؟ غلامانو وویل: موږ ته يې وویل چې بادار مو باید په خپله راشي او د ځای سپارښتنه وکړي، ستاسو شتون لازم دی.

کاپتا بیا ما [موتي] ته د میخانې خاوندې او خپل رفتار په اړه وویل چې څه ډول يې په میخانه کې ځای ترلاسه کړ.

کله چې غلامان کاپتا ته وایي چې باید ستاسو بادار په خپله راشي نو کاپتا صرف نظر کوي خو ور په زړه کېږي چې د سینوهه د حرکت دلیل له خپل جلاځای څخه هماغه د تمساح د میخانې نوم و نو په همدې دلیل امر کوي چې د هغه روان تخت د تمساح لکۍ میخانې په لور یوسي. کله چې کاپتا میخانې ته ننوځي نو د تندر وهلیو په څېر وچ دربېږي، یوه شېبه یوې او بلې خواته سر تاووي او شاوخوا ګوري.آیا دا د کپ په لېږې او پرته سیمه او د کپ په چاپېریال کې دی که په بندر کې په خپله میخانه کې؟ هماغه بوی، هماغه روښانتیا، هماغه لوښي او هماغه د تمساح لکۍ شراب! یوازې د تېر او اوس توپیر د تمساح لکۍ د تېزو شرابو په څښلو کې د کاپتا وړتیا ده! کاپتا له یوې ښځې سره مخ شو چې ځان يې (څونفر) ورته معرفي کړ. په پیل کې د میخانې خدمتګار وویل چې څو نفره له تاسو سره ګوري. کاپتا وویل: زه یوازې له یو نفر سره کار لرم او هغه هم د

(c) ketabton.com: The Digital Library



میخانې خاوندې سره.. چې په دې وخت کې یې واورېدل: مهرباني وکړئ ښاغلی کاپتا! زه (ځونفر) یم!

دا چې د میخانې خاوندې د کاپتا نوم زده و، حیران شو خو (ځونفر) یې حیرانتیا ورکه کړه او ویې ویل: مه حیرانېږئ ښاغلیه! په دې طبس کې څوک نشته چې کاپتا د هغه له آسمانڅکې ودانۍ سره ونه پېژني. ولې مو غلامانو ته ونه ویل چې تاسو په میخانه کې ځای ته اړتیا لرئ؟

کاپتا وویل: زه ځای ته اړتیا نه لرم، زه خپله ماڼۍ لرم. داسې مېلمانه لرم چې شاید ډېره موده په دې میخانه کې استوګنه وکړي. ځونفر له ځنډ پرته وویل: قدمونه یې مبارک شه، هېڅ ډول مانع نشته.

کاپتا په ځیرکۍ سره وپوښتل: ولې د دې میخانې په چاپېریال کې دومره ډېر عسکر او دولتي کارکوونکي شتون لري؟ د دې کسانو شتون د میخانې ښکلا لا ډېروي.

ځونفر وویل: د همدې خلکو شتون دی چې زموږ پیرېدونکي کولی شي په آزاد او له مزاحمت پرته هر څه چې وغواړي په دې لېږې پرته سیمه کې ترسره کړي. دا خلک امنیت ټینګوي، تاسو وینئ چې د کپ سیمه یوه لېږې سیمې ده. کاپتا ومنله او ویې ویل: تاسو سم وایئ، کله چې ما په بندر کې میخانه درلوده نو ساتونکو کسانو ته به مې وړیا شراب ورکول ترڅو میخانه مې وساتي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## (ځونفر) ځان ښکاره کوي

[سینوهه او موتي د اتوم په لارښوونه د نوي جوړې شوي تمساح لکۍ میخانې ته راورسېدل] کاپتا د خپل ارباب د ژغورلو له امله خوښ و او په هغه لېرې او بې وزلې سیمه کې یې چې خپل بادار ولید نو په ژړا یې پیل وکړ. موتي وویل: مه ژاړه کاپتا، په دې میخانه کې څه راز شتون لري!

اتوم وویل: که ماته مې بادار اجازه راکړي نو کولی شم دا راز کشف کړم ځکه اورېدلي مې دي چې په دې میخانه کې که هر څوک د سته(شیطان) په نوم پسې وګرځي، په څه بلا به ککړېږي. موتي وویل: شاید د هورم هب د زوی (ست هوس) د لاسه چې نوم یې د شیطان د زوی مانا ورکوي.

اتوم وویل: شاید د سته[د میخانې د خاوندې لور] نوم هم هماغه د [سته هوس] شیطان اولاد په مانا وي. څه موده مخکې مې واورېدل چې یو چا دننه په میخانه کې هغې ته په (هوس) غږ وکړ او وروسته یې په ټوکو وویل: شاید د سته هوس مور هم له بې شمېره کسانو سره ویده شوي او مور یې هم چې د ماشوم له پلارانو څخه کرکه درلوده؛ د ست هوس نوم پرې اېښی! د دې ترخې ټوکې څخه وروسته یو ژوره او درنه چوپتیا خپره شوه.

اتوم زیاته کړه: زه په خپله دا راز کشف کوم خو یو څه سره زر! ځکه چې آیا کاپتا ونه ویل چې په طبس کې داسې ستونزه نشته چې په سرو زرو حل نه شي. کاپتا وویل: په ممفیس ښار کې هم سپین زر د سرو زرو کار درته کوي خو دا چې دا خبره ډېره ارزښتمنه ده نو که سره زر هم مصرف کړې، ضرر دې نه دی کړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بله شپه اتوم د تمساح لکۍ شرابو یوه کوچنۍ کوزه وغوښته چې څو پیالې پکې ځایېدلې او د مېز سره نږدې کېناست او د سرو زرو درنه کړۍ یې د (ستې) په ورغوي کې ورکېښوده. سته له دې سخاوت څخه حیرانه شوه او په منډه منډه دننه لاړه او بېرته په مشکوکه څېره د مېز خواته راغله پرته له دې چې اتوم ته ور وګوري. اتوم د ستې د حالت د بدلون په اړه حیران شو او په دې لټه کې شو چې له ستې څخه یې لامل وپوښتي. سته څو شېبې وروسته اتوم ته راغله او له توقع لېرې په ګرمه لهجه یې له اتوم څخه وپوښتل: آیا تاسو له طبس څخه راغلي یاستئ؟

اتوم وویل: هو.. ولې؟

ستې وویل: غوښتل مې چې په خپل لاس پیاله درته ډکه کړم او د سرو زرو له کړۍ څخه مو مننده وی یم. بیا یې وپوښتل: آیا تاسو هم له هماغه ماشوم لرونکي مېرمنې سره یاست؟

- زه د هغه ښځې د بادار د غلام غلام یم!

ستې ښایسته خندا وکړه او ویې ویل: دا شوه معما!

اتوم وویل: کولی شم وپوښتم چې دا میخانه د چا ده؟

- دا میخانه او مېلمستون د (ځونفر) په نوم خاونده لري! اتوم سر وښوراوه او ویې ویل: ما هم همداسې فکر کاوه. بیا یې ستې ته بله ډالۍ ورکړه او بېرته خپلو ملګرو ته راغی او ویې ویل: دا میخانه او مېلمستون په ځونفر پورې اړه لري. سینوهه وویل: له کومه پوه شوې؟

اتوم وویل: هغې جلۍ راته وویل چې په دې میخانه کې هرکاره ده. کاپتا وویل: ما له هغې سره خبرې وکړې خو خپل مخ یې پوښلی و، ډېر حیران شوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په هغه عجیبه شپه، ستې د څو کرېو سرو زرو په بدل کې چې په طبس کې د څو کورنیو میاشتنۍ عاید و، له اتوم څخه وغوښتل ترڅو د په مېلمستون کې د هغې مېلمه شي. کله چې اتوم دا بلنه واورېده نو ټکان یې وخوړ او ویې ویل: آیا زه او ته...؟ ستې وخندل او ویې ویل: ستاسو ملګري، زه او څونفره (د میخانې خاونده)!

بله شپه کاپتا، موتي او سینوهه د اتوم په لارښوونه د مېلمستون په په یوه له برمه ډکه کوټه کې کېناستل. د تالار ښکلا د سینوهه لپاره ډېره عجیبه وه. د آموني منو په سر او تر ټولو مهمه د (مراد ورکولو خدای) توره مجسمه چې سر یې پېښو ته ورته و، رسم شوي وو. موتي کاپتا ته وویل: ته باید نن ورځ خوښ اوسې چې ودې کولی شول خپل بادار وژغورې او همدارنګه د ده په څېر یو ماشوم هم له اوبو ونیسې او زموږ په ژوند کې یې راګډ کړې.

سینوهه خبرې نه کولې او غلی په فکر کې ډوب و. موتي وپوښتل: لکه چې لوی بادار نه دی خوښ، لږ تر لږه د دې ماشوم د راتلونکي په اړه هم باید خوښ اوسې. سینوهه وویل: زه د همدې ماشوم د راتلونکي په اړه خپه یم. زه چې د فرعون د اولادې، د فرعون ځانګړی ډاکټر او شتمن کس وم او له ځینو ملګرو لکه کاپتا، موتي او مریت سره وم له څه ورځو سره مخامخ شوم ځکه چې زه د لارې سر ماشوم وم او ترځنګ یې هلک هم وم. دریغه د دې بیچاره نجلۍ پر حال!

کاپتا وویل: زه به د مسو وروستۍ کړۍ هم د موتیه د خوښۍ او آرامتیا لپاره ولګوم. سینوهه سر پورته کړ او ویې ویل:

زه د دې تېښتې په اړه په اندېښنه کې یم ځکه چې ممکنه ده چې په شرقي ساحلونو کې شاید زما هغه ساتونکي وربړول شي او مجازات

(c) ketabton.com: The Digital Library



به شي. کاپتا وویل: د ساتونکیو په اړه دې زما د بادار فکر آرام وي ځکه ستاسو له تګ وروسته مې هغوی ته په سوریه کې د عاید ښه ځای په نظر کې ونیو ترڅو دوی د هورم هب له کسانو څخه ډاډه وي او دوی مې د کارګرانو او خدمتګارانو په حیث هلته ولېږل ځکه چې پوهېدم چې بادار به مې خپه شي. سینوهه وویل: اوس مې فکر آرام شو، ښه نو راځئ چې اوس، سره له دې چې بوډا شوی یم خو د تمساح لکۍ د شرابو خوند په آسانۍ سره پېژنم او ډېر هیجاني یم چې پوه شم چې هغه څوک چا دلته راوستلی چې د تمساح لکۍ شراب پېرودونکو ته ورکوي او وایي چې هغه یوه مېرمن ده؛ ووینم.

موتي وپوښتل: کولی شم چې وپوښتم چې زما ګران بادار د میخانې د خاوندې سره د لیدلو په اړه ولې ټینګار کوي؟ سینوهه وویل: لومړی دا چې باید وپوښتم چې د سته/شیطان نوم یې ولې په میخانه باندې اېښی او دویم دا چې د تمساح لکۍ شراب یې له کومه کشف کړي دي.

کله چې کاپتا ولیدل چې د سینوهه اراده ډېر ټینګه ده نو ویې ویل: که چېرته ستاسو غلام همدې دوو پوښتنو ته ځای په ځای ځواب ووایي نو بیا به هم د میخانې د خاوندې سره د لیدلو لپاره دومره ټینګار کوئ؟ سینوهه وویل: یوازې باید دومره پوه شم چې هغه د مریت خور نه ده ځکه چې یوازې د مریت خور کولی شي چې د تمساح لکۍ شراب چمتو کړي. کاپتا وویل: کله چې ستاسو غلام[کاپتا] دې دوو پوښتنو ته ځواب ووایه نو ابهام به مو په خپله له منځه لاړ شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سینوهه چې موضوع ورته جالبه شوي وه، وویل: تر اوسه هېڅ په دې ډول نه وې مرموز شوی، ژر ووایه چې دا مرموز مسایل څه ډول راته پرانیزې؟

کاپتا وویل: د تمساح لکۍ شرابو په اړه باید ووایم چې جوړونکي يې اور واخیست او ابره شو او د دې شرابو د جوړولو چل يې هم له ځان سره قبر ته یووړ. د تمساح لکۍ دا شراب ما په خپل ساتنځای کې درلودل او ستاسو د راښکون لپاره مې د دې ځای ساقي ته ډالۍ کړل ترڅو د میخانې په سر باندې د (تمساح لکۍ) نوم وځړوي او تاسو وهڅېږئ!

سینوهه وویل: جالب پلان و. نو پر دې بنسټ داسې څوک نشته چې د مریت خور به وي! خو د سته د نوم په اړه چې دا د میخانې د خاوندې لور ده او ویل کېږي چې په ټول مصر کې جوړه نه لري نو ځکه غواړم چې د میخانې خاونده او په خپله سته ووینم. په دې نوم کې حتمن کوم راز شتون لري. دا چې د ست نوم سینوهه په فکر کې ډوب کړی و[له دې سره ست راننوته او څنډې ته ودرېده] سینوهه وویل: د پیشو دا سر مې چېرته لیدلی دی؟ ستې وویل: زه نه پوهېږم چې تاسو د پیشو سر(مراد ورکولو خدای) چېرې لیدلی، په راتلونکو څو شپبو کې به (څونفر) راشي او تاسو ته به ووايي... سینوهه وویل: د مېلمستون او میخانې خاونده؟ ستې وویل: که څو شېبې صبر وکړئ پوه به شئ! اجازه راکړئ چې ستاسو د حیرانتیا لپاره څراغونه ګل/مړه کړم. هر کله مې چې وویل سترګې پرانیزئ نو زه به څراغونه روښانه کړم او تاسو هم کولی شئ چې سترګې مو پرانېزئ.

هغه څو لنډې شېبې دروند سکوت چې پر سینوهه، موتي (چې ماشوم ورسره و)، کاپتا (چې د څونفر د لیدلو لپاره اندېښمن و) اتوم(چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



فکر یې کاوه چې د ښایسته ستې پام ور اوښتی) حاکم و؛ د ښځینه ګامونو غږ مات کړ او وویل شول: ځراغونه روښانه، سترګې خلاصې!

د (نفر نفر نفر) په لیدلو سره ناڅاپه د سینوهه زړه ولوېد... (نفر نفر نفر) چې نور یې د ځوانۍ ښکلا شاته غورځولي وه، د دم ختلي بُت په څېر د سینوهه مخې ته ودرېده او ویې ویل: اې کوپړۍ سوری کوونکیه ډاکټره! مه وېرېږه، زه د (څونفر) روح یم! سینوهه ناڅاپه وویل: (نفر نفر)! ته یې؟

هماغه شېبه وه چې اتوم او کاپتا د څو نفر د ریښتیني هویت په اړه پوه شول چې دا په اصل کې ټول یو نفر دی(نفر نفر نفر). کاپتا، موتي، او په خپله د (نفر نفر نفر) لور ستې هم د (نفر نفر نفر) د حیرانتیا او پېغور په دلیل نه پوهېدل او په پټو شونډو او وتلیو سترګو په نوي راز د پوهېدلو لپاره منتظر وو. (نفر نفر نفر) چې سر یې خریلی او غوږي یې پرې موښلي وو، آرامه کېناسته او سینوهه ته یې وویل: تا ته باید هغه مجسمه (د مراد ورکولو خدای) ښه در په زړه وای!

او بیا یې هغې مجسمې ته اشاره وکړه چې سر یې پیشو ته ورته و. کاپتا چې د سینوهه په څېره کې خپګان ولید نو وغږېد: موږ ستاسو مېلمانه یو، په چټې پېغورونو باندې د سینوهه د خپګان لامل مه کېږئ، حتمن تا غوښتي وو چې ورسره څملې او هغه له دې کار ډډه کړې ده، اوس...

(نفر نفر نفر) یې خبرې ور غوڅې کړې او ویې ویل: سمه ده، ما له پیل څخه ته وپېژندې او تا ته مې (بادار) وویل اې کاپتا غلامه! په لومړي ځل مې چې ستا بادار په دارالحیات کې ولید، نو همداسې وه چې تا وویل، ما هم د هغه د دې ځانساتنې په پار هغه ته ګرانبیه ګوتمۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورکړه خو په ځوانۍ کې يې چې ته هم په جريان کې وې او هغه ته به دې نصيحت کاوه، همدا سينوهه و چې له ما به يې لاس نه اخيست او غوښتل به يې چې راسره ځملي.

(نفر نفر نفر) ناڅاپه پر ماشوم او موتي سترګې ولګېدې او ويې ويل: ما وبښئ پوهېږم چې د سينوهه مېرمن نه يې او دا ماشوم هم د هغه اولاد نه دی نو ځکه زه هم د مېرمنې په مخ کې محرمانه خبرې نه کوم. موتي وويل: آرام اوسئ.

(نفر نفر نفر) وويل: لومړی اجازه راکړئ چې د تمساح لکۍ شراب چې په دومره لړه موده کې يې د کپ ټوله سيمه ځانته جذب کړه، د مېز په سر کېږدم او يوه يوه پياله سره وڅښو ترڅو وکولی شم چې په آرامتيا مې خبرې وکړم او تاسو هم په آسانۍ سره دا خبرې هضم کړئ.

موتي سينوهه ته وويل: آيا دا هماغه (نفر نفر نفر) ده چې د مور او پلار قبر يې درڅخه واخيست؟ (نفر نفر نفر) غوسه شوه او ويې ويل: مهرباني مو وه چې قبرونه مو د زړه ورکولو په بدل کې راوبښل. ما خو د مسو يوه کړۍ هم له چا څخه په زور نه ده اخيستې، سينوهه په خپله ټينګار کاوه او زما سره د ساعتېرۍ په پار يې بيه پرې کړه، يوه دوه اړخيزه معامله! تاسو څنګه ومنله چې دا ماشوم ترې واخلئ هغه هم له ټولو کړاوونو سره... دوه اړخيزه معامله د هغې له پيدا کوونکي کاپټا سره! کاپټا د (نفر نفر نفر) د مالوماتو څخه حيران شو او غلی کېناست.

(نفر نفر نفر) چې سترګې يې د سينوهه په سترګو کې ګنډلي وې، وپوښتل: آيا د پيشو هغه سر در په زړه دی؟ سينوهه سر وښوراوه او (نفر نفر نفر) وپوښتل: آيا در په زړه دي چې د ساعتېرۍ لپاره مې څه شرط وړاندې کړ؟ سينوهه بيا سر وښوراوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستە هوس لە مور څخە وپوښتل: مورجانې! کولی شم وپوښتم چې څه شرط و؟

(نفر نفر) وویل: کیسه یې اوږده ده.. د هغه سړي په اړه چې په یوه ښځه مېئن شو او هغې ښځې هم بېلابېل شرایط پرې کېښودل او هغه سړي ټول یوځای ومنل.

سینوهه وویل: دا د هغې ښځې جرم و چې زه یې داسې کارونو ته اړ کړم.

- ځواکمن سړي ښځې کوچنۍ او بې ارزښته څیز ګڼي، آیا هورم هب نه و چې په لومړي شرط یې د کور دروازه را خچه پچه (ماته) کړه او وروسته یې په کنځلو سره بې ارزښته خوشي کړم، د مسو یوه کړۍ یې هم رانکړه. د مور او پلار قبر خو لېرې خبره ده. ما په ټولو شیانو کې له تاسره شرط کېښود. ته مې له ځانه شړلې، تا ان دا غلام هم پر ما خرڅ کړ، اوس په قانوني ډول کولی شم چې د دې غلام د مالکیت دعوا وکړم او هغه خپل کړم ترڅو میخانه جارو کړي! هغه فراري دی او ما یې پیسې خاوند ته ورکړې دي.

کاپتا چې د ماڼۍ خاوند و له دې خبرو سخت خپه شو او ویې ویل: ان هورم هب هم نه شي کولی چې زما له اجازې پرته زما ماڼۍ ته راشي، ته بیا څوک یې چې غواړې زما مالکه شې؟

(نفر نفر) وویل: دا خبرې مو په طبس کې سمې دي خو اوس تاسو زما په میخانه او زما د ساتونکو ترمنځ یاستئ. په بې ځایه پوښتنو خبره مه تېروئ ځکه پوهېږم چې سینوهه ډېر تږی دی چې پوه شي چې په دارالممات کې څه پېښه شوي ده او څه ډول اوس زه دلته یم؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا چې پام مې یې شو چې لور یې (ستې) هغې ته مور ووېل نو په ځیرکتیا یې ور وکتل. په تالار باندې بشپړه خاموشي حاکمه وه او (نفر نفر) ټول مطالب له پړدې پرته د خپلې لور (ست هوس) په مخ کې بیانول:

هغه شپه چې تا زه دارالممات ته وسپارلم، ستا ته خوښې سره سم هر څه چې تا غوښتل، ان له هغې بد په ما تېر شول او څو میاشتې هره ورځ او شپه د دارالممات ټولو کارکوونکو څو څو ځله زه د لوبو د نانځکې په څېر هره شپه له ځان سره څملولم، د مومیایي د تېرې پر سر، هر ځای به یې چې هوس راغی، خلاصه... تر دې چې زه امېندواره شوم، کله چې امېندواره شوم نو هڅه مې وکړه چې ځان ووژنم خو پام مې شو چې د جنین د ساتلو په صورت کې کولی شم چې له ځور خلاصه شم او همالته مې پرېکړه وکړه چې هم به له دارالممات څخه ژغورل کېږم او هم به له تا غچ اخلم. د غچ حس ډېر ځواکمن و. همدا ځای و چې نور مې د سړیو د جذب او ښځینه مکر نه شو کولی، نو سرو زرو ته مې مراجعه وکړه. د دارالممات مشر مې ځان ته جلب کړ او ورته ومې ویل: د سرو زرو څخه سرېبره به مې یوه وینځه هم در وبښم. هر څومره چې غواړې ساعتېری کولی شې خو دوه شرطونه لرم: لومړی دا چې ما به له دې دارالممات څخه وباسې، دویم دا چې زما د مرګ په اړه شهادتنامه چې د هغه ډاکټر[سینوهه] مهر پرې لګول شوی دی، ماته وسپارې ترڅو د نوموړي پر ضد شکایت وکړم. د دارالممات د کارکوونکو مشر ته ښه پېژندلې او ته یې هم چندان نه خوښېدې او ما یې هم سترګې د سرو زرو په واسطه وتړلې، سند یې راکړ او زه هم مستقیماً هورم هب ته ورغلم او ومې ویل: حاضره یم چې له تا سره مالي مرسته وکړم په دې شرط چې [سینوهه] جلاوطنه کړې، هغه ځای ته چې هلته ساه هم ونکاږي!

(c) ketabton.com: The Digital Library



هورم هب وویل: زه د سینوهه پوروړی یم، سینوهه یو مهربان انسان دی او ماته یې رټه ګټه هم رارسېدلي ده.

ما[نفرنفرنفر] وویل: زما ګټه به هم در ورسېږي. زه به سره زر درکړم او ترځنګ یې د شکایت په مقام کې تاته راغلې یم، ته باید د پلاوي او ډاکټرانو له نظر سره سم سینوهه له طبابت څخه محروم کړې.

د یوه ژوندي انسان د مرګ شهادت نامه مې مخې ته ورکېښوده او ومې ویل: د یوې ښځې په نوم له یوه ځانګړي ډاکټر څخه شکایت لرم. زما په اند هورم هب تاته ترټولو لږه سزا درکړې ده او تر ټولو آسان مجازات یې درکړی دی د هغه کار په مقابل کې چې تا له ما سره کړی و، ولې؟ ځکه چې  تا د کینې کمزورۍ په ځای کې له ما څخه په زوره غچ اخیستی دی، په هغه څه چې ما ډېر تاکید وکړ او هورم هب مې نهائي پرېکړې ته چمتو کړ دا و چې هغه شپه مې هغه ساتونکي هم پیدا کړل چې د هورم هب په نوم دې له جعلي فرمان څخه په ګټه اخیستنې سره دې دوی په دې جنايي جریان کې شریک کړي وو. هورم هب د دې خبرو په اورېدو سره غوسه شو او ویې ویل: دا یو نو د زغملو وړ نه دی، لږ تر لږه خو سینوهه باید د سوء استفادې له امله هم باید مجازات شي...

دا باید هېره نه کړې چې له تبعید څخه وروسته هم زما د کسانو تر څار لاندې وې، ټول لېږد. رالېږد، خلک او همدا اتوم چې ستاسو ترځنګ دی؛ همااغا یو نفر یې (نفر نفر نفر) لید. زه کاپتا بښم او هغه آزادوم او اوس باید په بېړه وتښتي... تېر ځل له طبس څخه تښتېدلی و خو دا برعکس دا ځل باید طبس ته ور وتښتي. سینوهه به هم په راتلونکو شپېو کې په روان تخت کې هورم هب په لور وروستل شي ترڅو هورم هب له هغه سره د قانون په چوکاټ کې چلند وکړي خو موتې او ماشوم کولی

(c) ketabton.com: The Digital Library



شي چې په هماغه ودانۍ کې ژوند وکړي چې مخکې يې په اجاره نيولی و ځکه مالومه نه ده چې د تښتېدلي سينوهه برخلک به څرنگه وي؟ تاسو اوس استراحت وکړئ او له ماشوم ساتنه وکړئ. وينئ که نه چې (نفر نفر نفر) په هيچا هم څه نه تحميلوي! کولی شئ چې پاتې شئ ترڅو د دې ماشوم لپاره آسانتياوې درته برابرې کړم او که نه غواړئ نو د هورم هب له امر وروسته چې له سينوهه سره به څه رفتار وشي او کله يې چې جلاځای وټاکل شي، له هغه سره يوځای شئ، درېغه چې سينوهه خپل کتاب نه وای بشپړ کړی او دا برخليک يې هم پکې اضافه کړی وای...

*[بايد ووايو چې د سينوهه جريان له دې وروسته مالوم نه شو چې هورم هب له هغه سره څه وکړل خو د موتيه له خبرو ښکاري چې هورم هب هغه بښلی وي ځکه د کيسې ويونکې (موتيه) مخکې يادونه وکړه چې کله مې مور ماته کيسې کولې نو سينوهه به کړس کړس خندل چې د جلی ذهن په دې کيسو مه خرابوه... له دې ښکاري چې د کيسې ويونکې (موتيه) لويه شوي وه او مېړې به يې کيسې ورته کولې. په پايله کې ويلی شو چې سينوهه د هورم هب له خوا آزاد کړی شو.*

*له دې وروسته د کتاب ټول کرکټرونه بدلېږي او موسی عليه السلام پکې راښکاره کېږي. يوازې د سينوهه لور(موتيه) پاتې کېږي چې هغه هم د موسی عليه السلام کيسه کوي او د ځان په اړه ډېر څه نه وايي.]*

*د (نيل زوی/له سينوهه وروسته) په کتاب کې د سينوهه د*
*کيسې پای*

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ژباړن يادونه

کله چې په ۱۹۴۹ز کال کې د ميکاولتاري لخوا په فنلنډۍ ژبه ليکل شوی داستان (مصری/سينوهه) خپور شو نو د نړۍ د غوره ناولونو په ليکه کې ودرېد او د نړۍ ډېرو ژبو ته وژباړل شو. دا چې د غرب د کيسه ليکلو سبک زموږ د پښتو ادبياتو له کيسه ليکلو سبک څخه يو څه جلا دی نو تر اوسه چې غربي داستانونه پښتو ته را اړول شوي دي له ډېر هرکلي سره مخ شوي چې يو هم پکې د (سينوهه) داستان دی چې ښاغلي محمد عيسی ستانکزي پښتو ته ژباړلی دی.

هر چا چې د سينوهه داستان لوستلی نو ژور اغېز يې پرې کړی او شايد دويم او ان تر درېيم ځل يې هم لوستلی وي. زه هم د هغو کسانو له ډلې څخه وم چې په لومړي ځل د سينوهه کيسې تر اغېزې لاندې راوستم او دا کتاب مې څو څو ځله ولوست او يو نيم هغه فصل چې رټ به مې خوښ شو، ان تر لسو ځلو هم ډېر لوستلی دی.

يوه ورځ مې په يوه ايراني وېبسايټ کې يو کتاب تر سترګو شو چې عنوان يې (ادامۀ سينوهه) و، راښکته مې کړ او ومې لوست. مالومه شوه چې په دې کتاب کې يو څه برخه د سينوهه د کيسې ادامه ده او ورپسې د کتاب ټول کرکټرونه بدل شوي دي او د موسی عليه السلام کيسه يې را اخيستې ده. دا کيسه امريکايی يهود کيسه ليکونکي (هوارډ فسټ) ليکلې ده او هڅه يې کړې ده ترڅو د ميکاولتاري په څېر يو اثر رامنځته کړي خو د کتاب له لوستلو وروسته لوستونکی پوهېږي چې ښاغلی فسټ په خپله هڅه کې پاتې راغلی دی. د کتاب اصلي نوم په انګليسي ژبه (Moses, The Prince of Egypt) دی او مشهور ايراني ژباړن ذبيح الله منصوري د (فرزند نيل) په نوم او همدارنګه بل ايراني ژباړن بهرام افراسيابي د (ادامۀ

(c) ketabton.com: The Digital Library



سینوهه) په نوم فارسي کړی دی. ما په پیل کې نیت وکړ چې دا ناول باید پښتو ژبې ته وژباړم خو له مطالعې وروسته څرګنده شوه چې د سینوهه د داستان په څېر راښکونکی نه دی او یو څه ستونزي لري چې په لاندې توګه به اشاره ورته وکړم:

1. د کتاب په پیل کې د میکاولتاري کیسې کرکټرونه لکه سینوهه، کاپتا او موتي شتون لري او له هغې مودې را وروسته وخت رانغاړي کوم چې هورم هب سینوهه تبعید کړ.
2. فارسي ژباړن د کتاب نوم ځکه د (ادامهٔ سینوهه) په نوم بدل کړی چې چا د سینوهه کتاب لوستی وي نو کله چې خبر شي چې په دې کتاب کې د سینوهه د کیسې را وروسته جریان لیکل شوی نو مطالعه به یې کړي او په یو ډول به بازار ورته پیدا کړي.
3. د دې کیسې ویونکې د سینوهه لور(موتیه) ده، لکه څرنګه چې د میکاولتاري په داستان کې سینوهه خپل برخلیک ذکر کړی دی نو په دې داستان کې د سینوهه لور کیسه کوي خو د خپل برخلیک په اړه ډېر لږ څه لیکي او پاتې ټول جریان یې د موسی علیه السلام او فرعون کیسه ده.
4. د کتاب ډېره لږه برخه د سینوهه په اړه ده او له سینوهه وروسته ټول داستان او کرکټرونه بدلیږي چې ناول یو څه د بې خوندۍ په لور بیایي. د کیسې په پیل کې فرعون(رامسس، د هورم هب لمسی) ډېر نرم مزاجه ښودل شوی خو وروسته بیا خونخوار او ظالم ترې جوړ شوی دی.
5. د کتاب په څو فصلونو کې د یوه فرعي کرکټر په اړه ډېر څه لیکل شوي وي خو وروسته نوموړی کرکټر له کیسې څخه ورک شي او ترپایه یې پته نه لګیږي چې څه ورسره وشول او برخلیک یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



څنګه شو او لوستونکی په وسوسه کې پاتې کېږي. د بېلګې په توګه د فرعون يو ورور (شنار) ډېره هڅه وکړي چې له (رامسس) څخه تاج وګټي خو بريالی نشي، په پای کې د (شنار) په اړه هېڅ هم نه دي ويل شوي چې څه ورسره وشول، بله بېلګه يې د يونان د سپارټا واکمن (تراوا) او د هغه ملکه وي چې مصر ته راغلي دي او د کتاب څو څپرکي ورته ځانګړي شوي دي خو په پای کې يې برخليک يو ډول مبهم دی چې دوی څه شول؟ آيا يونان ته بېرته ستانه شول او که رامسس ووژل؟ د کيسې په ترڅ کې دې ته ورته نور کرکټرونه هم شته چې عاقبت يې نامالوم دی لکه د موسی عليه السلام د ښوونځي دوران څو ملګري او يو پاړوګر چې ماران ساتي.

کله چې د کتاب لومړی څپرکی مطالعه کړئ نو مالومه به شي چې ليکوال ان د اصلي کرکټر(سينوهه) د برخليک په اړه هم سم وضاحت نه دی ورکړی او لوستونکی بايد لږ فکر وکړي ترڅو په خپله مالومه کړي چې له سينوهه سره څه وشول؟

6. د کيسې پېښې که په ژور ډول وکتل شي نو ډېر ځايونه له يو بل سره ټکر لري او همدا د کيسې ترټولو لوی عيب ګڼلی شو.
7. د کيسې ليکوال د موسی (عليه السلام) د کيسې يو څه برخه يې له خپل ځان څخه ليکلي ده او وروسته يې له اسرايلي منابعو څخه اخيستې ده چې له مصر څخه د بني اسرائيلو قوم په وتلو پای مومي. داسې پای چې نه خوښې پکې وي او نه تراژيدي.
8. ډېری وخت د ځينو کيسو تراژيدي هم خوندوره وي، د دې کتاب مؤلف هڅه کړې ده چې په کتاب کې يو څه تراژيدي هم ځای کړي ترڅو عواطف راوپاروي خو ښکاري چې په خپله هڅه کې نه دی بريالی شوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



9. د کتاب مهم کرکټرونه یو رقم نومونه لري چې لوستونکی په اشتباه کې کېږي، د بېلګې په توګه د مصر فرعون او ملکه دواړه یو نوم (ست هوس) لري او همدارنګه د کیسې په منځ کې یو طبیب راپیدا کېږي چې نوم یې (آتون موسی) وي چې لوستونکی یې له موسی علیه السلام سره اشتباه کوي. بل نوم د سینوهه د لور (موتیه) دی چې د سینوهه له وینځې سره (موتي) سره اشتباه کېږي.

لکه څرنګه چې مخکې مو یادونه وکړه (له سینوهه وروسته) یا (د نیل زوی) کتاب چې دواړه د یو کتاب نوم دی، ما تر هغې برخې پورې پښتو ته وژباړه څومره چې د سینوهه جریان پکې لیکل شوی دی.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**